# پښتو او پښتانۀ: د ژبې او کلتور له لارې د نسل د تعين سوالونه

**Pashto Language and Pashtoon: Tracing the origin through the study of culture and linguistic**

ډاکټر برکت شاه کاکړ*

## Abstract:

The discourse on the origin of Pashto and Pashtuns has long been resonated in academic and research domains. Incepted in the beginning of seventeenth century (AD) the discourse has taken several shapes. Until Orientalist intervene in the late eighteenth century the prominent theory of Pashto and Pashtoon Semitic - Israelites origin was pervasive. This paper is going to unpack the evolution of this discourse and the diverse opinions that has created an interesting scenario of mutually contradicting stances. The author has raised questions regarding the predominant Aryan stance that solely define races on the basis of linguistic assimilations.

د پښتنو د اصل نسل په حقله چې هر وخت خبره کېږي نو لومړی پوښتنه دا سر راپورته کوي چې پښتانۀ څوک دي؟ له کومه ځايه راغلي دي؟ پخوا چرې مېشته وو؟ او د نړۍ په معلومداراه مدنيتونو او تهذيبونو کښې د پښتنو څۀ ونډه ده؟. د دې ټولو سوالونو ځوابونه په متفاوت ډول وئيل شوي دي. چا پښتانۀ د اسرائيل اولاد بللي دي، چا ورته قبطيان او آرمينيان وئيلي دي، چا بيا ساکان، ترکان يا يونانيان ګڼلي دي، لنډه دا چې هر چا ته چې يې د يوۀ نسل يا قوم سره يو څۀ نه څۀ نسبت په سترګو ورغلي دي، د پښتنو سرښته يې هم د هغوی سره منښلولې ده.

د تاريخ په زياتره پېر کښې د نسل او مځکې له لارې د دې مهم شناخت د پلټنې کار ته توجه شوې ده. د نسل او ژبې پر بحث د مفروضو او اټکلونو اثرات زيات جوت دي. خو ډېر وروسته يعنې د اتلسمې‌زېږدي صدۍ په وروستيو کښې د ژبې له اړخه ونسل ته د کتنې علمي بحثونه پېل شوي دي. که څۀ هم پښتو او پښتانۀ دوه لازم و ملزوم لامل دي ځکه نو چې د پښتنو د اصل نسل په حقله خبره کېږي هلته د پښتو ژبې پر تاريخ هم نظر اچول پکار دی.

پښتو (ژبې)، پښتنو (نسل) او پښتونوالي (د ژوند ضابطه يا دود) درې واړه په ارتقائي توګه داسې جوخت سره پاتې شوي دي، چې که پر يوه اړخ کار وشي نو د بل اړخ نخښې نښانې ورځخه

*Assistant Professor at Department of Pashto University of Balochistan Quetta

ځرګندې شي. چونکې ژبې او دود دستور په یوه کلتوري چاپیریال کښې وده کوي او خپل تشخص ژوندی ساتي، خو دنسل تعین د ژبې او کلتور له لارې کول حتمي نتائج نهٔ ګڼل کیږي.

د نړۍ پر سر هر نسل د خپلې بقاء جنګ د یوې فطري تقاضې په توګه کړی دی. خصوصاً کوم قومونه چې په استبدادي حالاتو کښې راګېر وي او د شناخت د ختمېدو له ستونزې سره مخامخ وي، هغوی دخپل تشخص او شناخت د بقاء له پاره ډېرې لاس و پښې وهي.

پښتانهٔ څوک دي؟ هم دغه یوه داسې پوښتنه ده چې په مخصوصه استبدادي حالاتو کښې هر وخت پښتنو د ځان څخه کړې ده. د نړۍ د نسلونو د مطالعې څخه دا خبره جوتېږي چې هرقوم اونسل د خپل ځانګړي شناخت د دائم ساتلو له پاره په شعوري توګه عسکري مبارزې هم کړې دي، عملي او فکري هڅې یې هم تر سره کړې دي. د پښتنو د اصل او نسل په حقله چې کوم مباحث وجود لري هغه مونږ په آساني سره په دوو پېرو کښې وېشلی شو. اول پېر هغه دی چې اډانه یې پر شفاهي روایاتو، غېر تحقیقي اصولونو باندې ده. په دغه حقله ډېر نظرونه شتون لري خو په ټولو کښې بس هم دا یوه خبره مشترکه ده چې د ژبې له لارې یې د نسل د هیئت (Origin) پرېکړه کړې ده. خومره بېلا بیلې او متضادې رایې چې د پښتنو داصل او نسب په حقله ځرګنده شوي دي هم دغومره د پښتو ژبې د اصل او رېښې په حقله موجوده دي. مېجر راورټي په خپل اثر "پښتو ګرامر" کښې په دې حقله لیکي:

"د پښتنود ژبې د اصل او رېښې په باره کښې هم د نظر اختلاف تر هغه کم نهٔ دې، لکه خپله د پښتو داصل او نسب په باره کښې چې دی"(1).

دلته دلچسپه خبره دا هم د چې مېجرراورټي د یوه نوم ورکي لیکوال د اثر "تذکرته الملوک" له روایته "پښتانهٔ " د دېبانو اولاد او "پښتو" د دېبانو ژبه یاده کړېده.

ډاکټر حبیب الله تږي هم په خپل اثر "پښتانهٔ" کښې داسې تېروتنې او غېر عقلي روایتونه یاد کړي دي، هغه لیکي:

"ځینې روایتونه وایي چې افغانانو خپله ژبه له دېبانو زده کړه، ځینې نور بیا وایي دا د کسې د غره داوسېدونکو ژبه ده، د افغانانو دا عادت وو چې د دغو ښځې او لونړې به یې ترې بوتې او ودونه به یې ورسره کول او ځکه یې نو پښتو ژبه زده کړه او خپله ژبه یې چې ابراهیمي (عبراني) وه، هېره کړه"(2).

ډاکتر حبیب الله تږي په خپل اثر "پښتانهٔ" کښې د پښتنود اصل او نسب په حقله ګڼ شمېر اټکلونه او غېر عقلي فرضیې رد کړي دي چې ورڅخه پښتانهٔ مغل، جتان، هپتالیان، ساکهان، برهمنان، ارمینیان، بني اسرایل او دغسې نور قامونه ثابتیږي. هغه په خپل اثر کښې مخته په هم دې حقله داسې لیکي:

"چا پښتانۀ د خپل عنعنيي روايت په اساس بني اسرايل بللي او چا بيا قبطيان ګڼلي دي، چا په مغلو ورګډ کړي او چا بيا دارمنيانو، تاتارانو، هپتاليانو او ساکهانو په قطار کښې درولي دي. چا بيا په عين وخت کښې له راجپوتانو، برهمنيانو، ترکانو، جټانو، يونانيا نو، عربانو او نورو سره ګډ کړي دي. خو د پښتنو د اصل او نسب په باره کښې تر ټولو عام او ښخي زوږ روايت هغه دی چې وايي پښتانۀ بني اسرايل دي"(3) .

خو په دغه کښې تر ټولو قوتناکه او په اولسي سويه خوره شوې نظريه پښتانۀ بني اسرايل ګڼل دي. داروانښاد بهادر شاه ظفر کاکاخېل په خپل اثر"پښتانۀ د تاريخ په رڼا کښې ليکي:

"دا نظريه په اول ځل نعمت الله هروي په خپل اثر مغزن افغاني کښې په کال (۱۶۱۷)وړاندې کړله"(4).

د دې نظريې ضرورت د مغلوي امپراتورۍ (۱۵۲۲-۱۸۵۷) په اوج کښې هغه وخت پښتنو ډېر په کلکه محسوس کړ کله چې دفارس صفوي امپراتور او مغلو تر منځ د افغانانو په ضد يو مضبوط اتحاد د سوري خاندان دوم باچا عادل سوري له تخته محروم کړ. بهادرشاه کاکاخېل په خپل اثر کښې ددې علت داسې ښودلی دی چې د پښتنو د عزت نفس د مجروح کولو او په دوئ کښې د حريت او آزادي د روح وژلو له پاره د ايران سفير په مغلوي دربار کښې دا افسانه و سکښتله چې پښتانۀ "ديوذاد" دي. هم دغه افسانه مخته مونږ د "تذکرة الملوک" د حوالې ياده کړه. د همدغه افسانې د ردولو له پاره د مغل باچا نورالدين جهانګير په دربار کښې پښتون سپه سالار خان جهان لودهي د پښتنو مورخينو يوه ډله تشکيل کړه چې په نتيجه کښې يې د نعمت الله هروي نوموړی اثر"مخزن افغاني" او د پښتنو د بني اسرايل د اولاد کېدو نظريه وزېږېدله. ډاکټر راج ولي شاه خټک په دې حقله په خپل اثر "روهالوجي"کښې ليکي:

"د نعمت الله هروي (او دهغه د نورو پښتنو مورخينو ملګرو) د خېړنې يو محرک د مغل د دربار ي مورخانو د تاريخي خيانت ردِ عمل هم ښکاري کومو چې پښتانۀ د اصل نسل په باب ګمراه کونکي ليکل کړي و. لکه محمد قاسم فرشته وغېره. د مغلو د هند سلطنت د پښتنو له لاسه تروړلی ؤ... خان جهان لودهي او نعمت الله هروي دا تحقيقا ت وکړل او ثابته يې کړه چې پښتانۀ خو په اصل د بني اسرايل د پيغمبرانو له کورنۍ سره تعلق لري"(5).

دلته د پام وړده چې په کوم کال محمد قاسم فرشته خپل تاريخي اثر بشپړ کړ په همدغه کال نعمت الله هروي د خپل تاريخي اثر "مخزن افغاني" د ليکلو له پاره لېڅې راونغښتې. پروفېسر پريشان خټک هم په خپل اثر "پشتون کون" کښې ددغه اثر علت د مغل درباري مورخينو هغه تعصبي هڅې ښيلي دي چې د پښتنو د ملي تفاخر، عزت نفس اوخودي دوژلو له پاره په منظم ډول په کار اچول شوي وې.

که مونږ دلته د لفظ افغان، بطان، پتان، پهټان، پښت+ون، پښتون، پختون، روهیله، وغېره د اشتقاقي ریښو او تاریخي څېړنو پسې پل واخلو نو دا امکان شته چې د اصل موضوع څخه دي بې درکه شو. خو پر دومره به قناعت وکړو چې لفظ پکهت، پښت او پښتون ډېره لرغونې سابقه لري چې مونږ یې د یوناني مورخ ّهیروډوټس په یاداښتونو، د چیني او عربي سېلانیانو په سفرنامو او په ویدي ادبیاتو(Vedic Literature)خصوصاً په مهابهارت کښې یې هم څرک وینو. بهادرشاه کاکاخېل په خپل اثر کښې مخته لیکي:

"د پښتنو د بني اسرایل له قبیلو سره د تړون نظریه وروسته د اولسمې او اتلسمې صدۍ ګڼ شمېر تاریخي کتابونو تکرار کړې ده. لکه تاریخ مرصع، د افضل خان خټک "خلاصة الانساب"، د حافظ رحمت خان "صولت افغاني"، د زرداد خان ناغر "تزک افغاني"، "شوکت خاني"، "خورشید جهان" اوداسې نور"(6) .

ستر خوشحال بابا هم ددغه نظر سره اتفاق درلود او په دا باب یې وئیلي دي چې.

"په ښایست باندې یې ختمه دا وېنا ده
چې په اصل د یعقوب قام وتبار دی"(7)

د پښتنو د اصل نسل په حقله پلټنې هغه وخت و تحقیقي او سائنسي ساحې ته ننوتې کله چې پر پښتو او د ختیځ پر نورو ژبود هیئت(Origion) او ژبني رغښتوالي (Linguistic Structure) له لارې علمي او تحقیقي بحثونه را منځ ته شول. د ژبو ترمنځ د مقایسوي څېړنو څخه د ورته او ځنګلورو ژبو تر منځ مناسبات را برڅېره شول. لکه څهٔ ډول چې وختي د بني اسرایل د نظریې په رڼا کښې د پښتو ژبې او عبراني ژبو تر منځ څهٔ نهٔ څهٔ تړون راپلټل شوی ؤ، لکه د راورټي هڅې چې زمونږ ومخته دي، هم دغه ډول په لومړي ځل په کال ۱۸۱۰ء کښې جرمن کلتور او ژبپوه جولیس کلاپروت (Julius Klaproth) دغه نظریه ردکړه چې پښتو د سامي ژبو سره تړلې ده. بیا هم جولیس کلاپروت (Julius Klaproth) لومړی ختیځ پوه دی چې پښتو یې یوه آریایي ژبه بللې ده. د جولیس کلاپروت پر دغه پلونو بیا نور ختیځ پوهان راټېر شوي دي او یوه پخه لاره یې جوړه کړه چې د پښتنو د اصل نسل او پښتو ژبې د هیئت او خاندان په حقله یې د بینادي سوالونو ځوابونه وئیلي دي. دلته چې کوم ختیځ پوهانو وختي د پښتون وطن او اولس په حقله د اتهنو ګرافي (Ethenography)او بشر پوهني (Anthropology)له علمي ساحې پلټنې کړې وې یا یې د دې وطن اولسي ادب راغونډ کړې ؤ د هغوی زیار بیا نور و ژبپوهانو په کار راوستي دي او مونږ وینو چې د پښتو او نورو آریایي ژبو لکه فارسي، سنسکرت، جرمني او نورو ژبو تر منځ مقایسوي پلټنې پېل شوې. لنډه دا چې په دغه دوره کښې مونږ وینو چې جرمن ژبپوه

برنارډ ډورون(Johannes Albrecht Bernhard Dorn)، د هنګري ټولنپوه او ژبپوه رافېل پاټي(Raphel Pati)، رابرټ لیچ (Robert Leach)، جېمز ډار مسټېټر(James Darmestater)، جارج مارګن سټېرن(George M Steran)، او دغسي نورو ختيځ پوهانو د دليل او سائنسي اپروچ له لارې پښتو د هندي-ايراني آريايي ژبو د کهوله ثابته کړه.

د يادوني ده، چې انګريز ختيځ پوهانو تر دې دمه د پښتو ژبې او ادب په مباحثو کښې چنداني دلچسپي نۀ درلوده. د انګريز ايسټ انډيا کمپنۍ په صفونو کښې که څۀ هم د سياسي، انتظام او مځکني علم ماهرين وو، او د هغوی د پښتنو او افغانانو په حقله علم د يون ليکونو په بنه شتون درلود، خو د لومړې افغان-فرنګ جنګ په ترڅ کښې چې کوم زيان د هغوی و فوځ، املاکو او امپراتوري تفاخر ته ورسېد، هغوی يې خپلو سامراجي تګ لارو بدلولو ته متوجه کړل. ميجر راورټي له قوله چې تر دې مهاله د هغوی ټوله تکيه پر هغو هندوستاني هندوانو، او انګريز سيلانيانو وه چې يون ليکونه خو يې ليکلي وو، خو په پښتو کورټ نۀ پوهېده.

په نولسمه صدۍ کښې بيا دغه خبره په علمي توګه و څېړل شوه چې پښتو د اوستا او سنسکرت يوازنۍ ژوندۍ خور ده. په دې حقله چې کومې څېړنې رامنځ ته شوي دي چې پښتانۀ آرين او پښتو دآريايي ژبو د کهوله څخه ده.

لوی استاد عبدالحی حبيبي په خپل اثر د پښتو ادبياتو تاريخ دويم ټوک کښې ليکي:

"په دې لومړنۍ آريايي ژبې کښې تر اوسه څۀ معلومات دپوهانو لاس ته نۀ دي راغلي او نۀ چا څۀ په کښې وئيلي دي. تش دوني ويل کېږي چې لکه دوئ چې د مذهب، رسوم، ملي دودونه درلودل، نو ښايي چې بېله ژبه به يې هم درلوده: خو دا نۀ معلومېږي چې اصلي آريايي ژبه کومه، څنګه او څۀ راز ژبه وه، څومره عمر ژوندۍ وه؟"(8) .

البته د پښتو ژبې په حقله د فرانسيسي ختيځ پوه جېمز ډار مسټېټر(James Darmesteter) او ډاکټر ټرومپ (Dr. Trump)تر منځ چې کوم بحث رامنځ ته شوې دې هغه د پښتو ژبې دهيئت او کهول (خاندان) په حقله د پای ټکی ږدي. ډاکټر حبيب الله تږي په خپل اثر کښې د جېمز ډار مسټېټر (James Darmesteter)د اثر (Chants popularizes des Afghan) څخه حواله ژباړه کړې ده. هغه ليکي:

"پښتو د زيند څخه ماخوذ ده او دا حقيقت دې چې پښتو د هندي آريايي ښاخه نۀ ده. د ډاکټر ټرومپ مدعا داده چې پښتو ځان له يوه آزاده ژبه ده چې د فارسي او هندي تر اثر لاندې پاتې شوې ده"(9) .

استاد حبيبي په خپل اثر کښې په دغه حقله خبره هم داسې راغونډه کړې ده چې هغه د ډاکټر ټرومپ له نظره سره اتفاق لري او ليکي:

"باید و منو چې پښتو ژبه له اصلي باختري ژبې یا آریک څخه مستقلاً راوتلې د زند او سنسکرت خورده"(10).

چرې چې د پښتو ژبې اړیکه د هندي آریاي ژبو د خاندان سره تړلې ده، نو ځکه د پښتنو د اصل او نسب په حقله هم سوالونه را پورته شول.

## د پښتنو اصل او نسب

دلته که د پښتنو قبایلو پرمروجه شجرو یو لنډ نظر واچول شي نو بحث یو وار بیا شاته تمبیږي. ولې چې کومه نظریه چې پښتانهٔ بني اسرایل ثابتوي، د قېس عبدالرشیداو د هغهٔ د اسلام د قبولیت نظریه او د هغهٔ د زامنو او اولاد په حقله تفصیلات هم ددغه نظریې برخه دي. په تاریخ مرصع کښې د نعمت الله هروي د پښتنو د ور نیکونو په حقله استدلال څهٔ داسې را اخستی دی.

"هغه دوولس قبیلې چې د حضرت یعقوب علیه السلام د زوی یهودا داولاد څخه وې له هم دغه څخه د افغانانو جد امجد زیږېدلی دی چې په کښې یوقېس هم ؤ، د هغه زوی ساول چې د طالوت په نامه یې شهرت وموند، هم دغه حضرت تالوت دپښتنو جد امجد دی"(11) .

دلته داخبره واضح ده چې د پښتنو په اوسنۍ شجره کښې د قېس او د هغهٔ د زامنو چې کومه قیصه راغلې ده هغه هم د هغې لویې افسانې (Grand Narrative) برخه ده، چې ورڅخه د پښتنو اصل او نسل د بني اسرائیل د پښت څخه ثابتیږي. دلته شجره د بني اسرائیل پرپښت دلالت کوي او نسل دباختري آریک او ژبه دهندي-ایراني آریایي کهول سره ریښه ثابتوي.

که څهٔ هم د ژبې او نسلي هیئت په حقله متبادلې پلټنې په وجود کښې راغلې دي خو د شجره نسب په حقله چې کوم نظرونه وجود لري په هغو کښې تراوسه پورې څهٔ مناسب متبادل علمي اوتحقیقي نظر مخې ته نهٔ دی راغلی. د فکر وړ خبره ده چې دلته تراوسه کومه شجره زیاته مستنده ګڼل کېږي، لکه حیات افغاني، د هغه ټوله استدلال هم پر شفاهي یا اولسي معلوماتودی. که څهٔ هم دا پر خپل ځای یو لوی سوال دی چې د پښتنو د شجرې بحث او د پښتنو د نسب نظریه په خپلو کښې سره متفاوت دي چې و ژورې علمي څېړنې ته اړتیا لري. خو مونږ وینو چې د پښتو او پښتنو په حقله ډېر معتبر عالمان لکه استاد حبیبي او سر اولف کېرو (Olaf Caroe)په خپلو اثارو کښې هم دغه افسانوي او شفاهي روایات سره ګډ کړي دي او د پښتنو د نسب او شجرې ستونزه یې هواره کړې ده. استاد عبدالحی حبیبي په خپل اثر کښې داسې لیکي:

"د قېس عبدالرشید پښتون (پټهان) درې زامن مشهور دي، چې غُرغښت، بېټڼ او سړبن نومېدل. ددغه پښتانهٔ کهالهٔ په اړه ډېرې سیمه ایزې افسانې شته، خو هغه څهٔ چې د پښتنو پخواني تاریخ پوه سلېمان ماکو د (۶۱۲هج ، ۱۲۱۵ز) په شاوخوا کښې خپله تذکره کښې لیکلې او تر هغه وروسته نورو تاریخ پوهانو لکه ابوالفضل په آئین اکبري کښې (۱۰۰۶ هـ، ۱۵۹۵ز) اخون درویزه (پر ۱۰۴۸ هـ) په تذکرة الابرار او مخزن السلام کښې نعمت الله هروي په مخزن افغاني کښې (۱۰۱۸ هـ ۱۶۰۹ ز) شیخ امام الدین خلیل ( چې پر ۱۰۶۰ هـ، مړدی) په تاریخ افغاني کښې تائید کړی دی چې اوس تاریخي حقائق دي"(12).

## د ژبې او نسل د تلازمې په حقله یو څو سوالونه:

د ژبې او نسل تر منځ د تلازم دغه نظریه که څهٔ هم د ډېره وخته په علمي حلقو کښې خپل حرکت او د وجود جواز موندلی دی، خوبیا هم داسې ډېر سوالونه راپورته کیږي چې د نسل او ژبې د نظرئې تلازمې ته د سوال نښان ږدي. د مثال په توګه که چرې مونږ د پښتون،افغان سیمو عسکري او سیاسي تاریخ و ګورو نو لومړی خبره خو هم دا مخ ته راځي چې د یونانیانو،ساکهانو، کوشیانانو، هندوانو، فارسیانو، مغلو، ترکانو فوځونو چې پر کومه مځکه را تېر شوي دي، آیا د هغوی سره په ډغره کښې چې کومه ګډوډي، مهاجرتونه، او بې کورې را منځ ته شوې دي، په هغه کښې د یوهٔ نسل یا قبائلي شجرې مستند پاتېدل امکان لري؟.

کومه شجره چې په اولسي سویه د شفاهي روایت له لارې د خلقو په یاداښت کښې خوندي ده، یا هغوی ورباندې عمل کوي، د هغه له رویه اولس د خپلې قبیلې تر سرخېله خو ځان رسولی شي، خو د قېس عبدالرشید او د هغهٔ د اولادې په حقله یې څهٔ معلومات ورته نهٔ شته.

بلې خوا ته پښتانهٔ چې د کوموځنګلورو قامونو سره میشته دي، د هغوی سره د پښتنو نسلي اتصال هم د څهٔ امکانه خالي نهٔ دی. لکه څنګه چې په تعداد لږ قبیلې یا کهولونه د ځان سره بې مځکې خلق همسایه اړوي، او په ځینو پښتني سیمو کښې د ورور غونډې په مال او میراث ګډوي، نو په داسې حالاتو کښې د پښتنو یوازې یو سوچه نسل پاتېدل تر ډېره حده امکان نهٔ لري.

د نورور قبیلو خلق په خپله قبیله کښې ځای کول او هغوی هم هغه حقوق و مناصب (Rights and Entitlements) ورکول د بلوڅو او براهوي قبیلو یو دوامداره دود پاتې شوی دی. د سهېلي پښتونخوا بېخي ښکاره قبیلې لکه رئیساني (ترین)، څلګریان (کاکړ)، زرک زئي (کاکړ)، سنجراني (سنزرخیل -کاکړ) او دغسې نور. که څهٔ هم دا ډول قبایلي اتصالات په پښتنو کښې کم دي، او یوازې بلوڅو ته ورڅرمې سیمو کښې ځای په ځای شتون لري، دا وخت په بشپړه توګه خپل ژبني، سیاسي او قبائلي شناخت د بلوڅیت د دود دستور سره مبنلوي. لکه څهٔ ډول چې په نژدو

وختونو کښې د سهېلي پښتونخوا ډېرې ذيلي قبيلوي ټبرونه په براهوي بلوڅو و رګډ شوي دي، نو دا امکان هم نۀ شي رد کېدلی چې براهويان، بلوڅان يا نور څنګلوري قامونه لکه تاجک، ازبک، پنجاپيان، ايمق، فارسيان او نور دي په پښتنو ګډ شوي وي.

زما په نزد د ژبې، نسل، او ژوند دود په دې درې ګوډېز (Triangle) کښې اوليت و کلتور ته حاصل دی، ولې چې کلتور په خپل اصل کښې کُل دی، او ازاد متغير دی، او د دې په مقابل کښې ژبه د کلتوري عمل تابع ده، ولې نسل په هيڅ ګن د ژبې يا کلتور د متغيراتو سره نېغ په نېغه تړون نۀ لري. لکه په هندوستان او پنجاب کښې چې په مليونونه وګړي د نسل او ذات له لارې پښتانۀ دي، خو د خوی، خصلت او ژبې له جهته پښتانۀ نۀ دي. ايا دا خلق پښتانۀ ګڼلی شي که يا؟دا سوال بيا هم د پښتونولۍ په ساحه کښې راځي،چې پښتني کلتور او روايت د يو پښتون پېژندګلو څنګه کوي.

هغه خلق چې يو وخت بې پلرونو د هند پر کوشنۍ وچه د پښتنو واکمنۍ درولې وې، لکه لودهيان،غوريان، خلجيان،نن د پښتونولۍ د دود ستتور او پښتو ژبې څخه محرومه دي، ځکه هم دغه وګړيو ځان ته يو بل ايتنيک يا نسلي شناخت موندلی دی او په سياسي توګه يې کله هم د پښتنو او پښتو سره د يو والي مظاهره نۀ ده کړې. په داسې چاپيريال کښې چرې چې شجرې سره ګډې وډې شي، د ټېټو ټولنيزو ډلي (Social Minorities)هم د يوه غوره ټولنيز شناخت لپاره خپله نسلي سرېښته بدلوي. د هند په پښتني ريستونو کښې پاتې شوي افغانانو په لاشعور کښې که څۀ هم تر ډېره د خپلو پلرونو او نيکونو د تورو شرنګې پاتې شوی دی خو ښائي چې هغه ځای مخصوصه کلتورطاقت د فکرونه، روئې، قدرونه او رواجونه په خپل انداز تشکيل کړي دي.

د پښتنو آريايي سرېښته چونکې د ژبې پر بنياد قائمه ده، و هند ته د آريايانو د راتګ تاريخي واقعه د دې نسلونو او ژبو د اتصال سوب ګڼل کيږي، خو د ځايي هندي آريايانو تصور پر هند د آريايانو د سلطې کورټ انکار کوي، او دا نظر وړاندې کوي چې د ويدي لټريچر څخه هم وختې د هند هړپه تهذيب آيايي ژبې يورپ ته رسولي دي، او د ژبو او تهذيب دغه عمل له هنده و يورپ ته لېږدېدلی دی. په دې بحث کښې يو وار بيا د پښتنو د آرياي نسل سره د تړون د مساوات هندسې سره ګډ ېږي، او له مونږه غوښتنه کوي چې پر دې سوال يو وار بيا له نوي سر نويشته سره سوچ وکړو.

❀❀❀

# حوالې


(1) هنري راورټي، مېجر، دپښتو ګرامر، د چاپ ځای او کال نامعلوم، مخ ۱۷

(2) ترړی، حبيب الله، ډاکټر، پښتانۀ، دانش کتابتون قيصه خوانی بازار پېښور دويم چاپ،کال ۲۰۰۳ء، مخ۳۱

(3) هم دغه اثر. مخ ۱-۲

(4) کاکاخېل، بهادر شاه ظفر، پښتانۀ دتاريخ په رڼا کښې، يونيورسټي بک اېجنسي خېبر بازار پېښور، پنځم اشاعت کال ۱۹۹۹ء مخ ۱۶

(5) خټک، راج ولي شاه، ډاکټر، روهالوجي، يونيورسټي بک اېجنسي، خېبر بازار پېښور کال ۲۰۱۳ء مخ ۲۴-۲۵

(6) کاکاخېل، بهادر شاه ظفر، پښتانۀ دتاريخ په رڼا کښې، يونيورسټي بک اېجنسي خېبر بازار پېښور، پنځم اشاعت کال ۱۹۹۹ء مخ ۱۶

(7) خټک، راج ولي شاه، ډاکټر، روهالوجي، يونيورسټي بک اېجنسي، خېبر بازار پېښور کال ۲۰۱۳ء مخ ۲۴

(8) حبيبي، عبدالحی، د پښتو ادبياتوتاريخ، دويم ټوک، دانش خپرندويه ټولنه تکنيکي څانګه کال ۲۰۰۵مخ ۳۹

(9) A Aziz Luni, Afghans of the Frontier Passes, New Quetta Book Stall Jinah Road Quetta, 1992, P-25-26

(10) حبيبي، عبد الحی، دافغانستان لنډ تاريخ، ژباړه عبدالروف بېنوا دانش کتابتون قيصه خواني بازار پېښور، دويم چاپ دکال ۲۰۰۳ء، مخ ۸۸.

(11) خټک، پريشان، پښتون کون؟ پښتو اکېډمي پېښور اشاعت دويم کال ۲۰۰۵ء مخ ۱۵

(12) حبيبي، عبدالحی،دافغانستان لنډ تاريخ، ژباړه عبدالروف بېنوا دانش کتابتون قيصه خواني بازار پېښور، دويم چاپ دکال ۲۰۰۳ء، مخ ۱۴۱